BBC AEP

نوی کور، نوی ژوند

# لـتهـون

# دافغانستان تعليمي پروژې، بي بي سي


| | | |
|---|---|---|
| خپروونکې | : | افغان نشراتي اداره (انا) |
| مسوول مدیر | : | کاتب پاڅون |
| سکرپټ اډیټر | : | بریالی باجوړی |
| انځور ګر | : | صدیق ژکفر |
| اخیستنه | : | له فولکلوریکو منابعو څخه |
| کمپوزاو ډیزاین | : | بازمحمد عابد |
| دچاپ ځای | : | پبلک آرټ پریس ، پیښور |
| پرله پسې ګڼه | : | ۰۰۲۸ |
| لومړی چاپ | : | ۱۰۰۰۰/۲۰۰۵ |



## ددې کتاب ټول حقوق د(انا) لپاره خوندي دي.



**پـــته :**

دافغانستان تعليمي پروژې، بي بي سي

کورنمبر: ۲۷۱

لومړی سړک، قلعهء نجاران، خیرخانه

پست بکس نمبر: ۱

کابل،افغانستان

ټلیفون: ۰۰۹۳ ۰۲۰ ۲٤۰۰٤۹٥

# نوی کور، نوی ژوند

# لـــتـون

د افغان نشراتي اداره (انا) ویاړي چې دا ځل د ((لـــتون)) په نامه یوه بله تصویري او په زړه پورې کیسه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوي.

دغه کتاب چې همدا اوس یې تاسې لولئ او د تصویرونو نداره یې کوئ، د افغان نشراتي اداري د چاپ شویو کتابونو په لړ کې (۲۸) کتاب دی.

که د خدای (ج) رضا وه او مورږ وتوانیدو نو دا لړۍ به جاري وساتو او تاسې ته به نورې ښې تصویري کیسې وړاندې کړو.

دا کیسه د نړیوال فولکلور یوه برخه ده چې په ډېرو هیوادونو کې د شکل له مخې په بیلابیلو بڼو له یوه نسل نه بل ته په میراث پاتې ده او هر ولس د خپلو تخیلاتو سره سم سینګار کړې ده.

د دې کیسې مرکزي کرکټر ما په انګریزي منابعو (سرچینو) کې د مورګ په څیره کې لیدلی و. په ځینې ولسونو کې د انسان او یا هم د سوی د بچې په څیره کې راغلی. خو د خوند او پند موضوع په ټولو کې ګډه ده چې ماشومان په خپل ځان د اعتماد او باور لوري ته هڅوي.

په دې کتاب کې افغان نشراتي اداري د وړې سوی کرکټر غوره کړی دی. ځکه چې سوی اود سوی بچي د ماشومانو د خوښې وړحیوان دی. په کیسه کې وړه سوی د دې حقیقت په لټون کې ده چې د دنیا پر مخ به څوک تر ټولو قوي او مهم وي چې دا ورسره دوستي وکړي. که څه هم مور یې منطقي ځواب ورکوي خو وړه سوی یې نه منې نو ځکه په خپل اند ورته لمر، بیا وریځ او همدا ډول باد، غر، زلزله، ځمکه او اوبه قوي ښکاري. خو په پای کې یو سپین ږیری بزګر د دې پوښتنې اصلي ځواب ورکوي او دا هماغه ځواب وي چې په لومړي سر کې د وړې سوی مور ورکړی وي.

زمورږ ټولې هلې ځلې دا دي چې دغسې عبرتناکې کیسې راټولې او د تصویرونو په بڼه یې بیرته د ماشومانو په واک کې ورکړو.

ګران لوستونکي کولای شي چې د خپلې سیمې ولسي کیسې مورږ ته راواستوي. مورږ به هغه د دوی له نوم سره یوځای په ډېرو ښکلو تصویرې بڼو کې خپرې کړو.

اوس راځئ چې د وړې سوی پل پسې واخلو او وګورو چې د حقیقت د موندلو لپاره څومره لوړې ژورې لټوي او په پای کې هغه څه تر لاسه کوي چې دا ورپسې سرګردانه ده.

په ډېره مینه
کاتب پاڅون

د یو غره په لمنه کې یوه وړه سوی له خپلې مور سره اوسیده له.
یوه ورځ یې له مور نه پوښتنه وکړه چې د ځمکې پر سر
تر ټولو قوي څوک دی؟ مور یې ځواب ورکړ چې
هر څوک د خپل توان په اندازه قوي او مهم دی.
هیڅوک د بل چا ځای نه شي نیولی.

وړې سوی د مورخبره ونه منله او د خپلې پوښتنې
د ځواب پیدا کولو په لټون راووته. یو خوا او بله
خوا وګرځیده. هر یو شی یې له نظره تیر کړ.
غوښتل یې چې په ډې کې تر ټولو قوي
او مهم موجود پیدا کړي.

ناڅاپه يې لمر ته پام شو. لمر ته ورغله
او ويې ويل: غواړم په دنيا کې تر ټولو قوي
موجود سره دوستي وکړم. په نړۍ کې ته
تر ټولو قوي يې، ځکه تر ټولو لوړ يې او
ځمکې ته تودوخه ورکوې خو....

په دې وخت کې خو پنډوسکي توره وريځ راغله او د
لمر مخ په وريځ کې پناه شو. وړه سوی، په چورت کې شوه.

وړه سوی له لمر نه راوګرځیده او د وریځې
په لټون روانه شوه. غوښتل یې چې له وریځې
سره اشنا شي. ځکه دې فکر کاوه چې
وریځ تر ټولو قوي موجود دی.

وړه سوی، د لوړ کمر سرته وخته.
ځان یې وریځې ته نیږدې کړ او بیا یې ورته وویل:
ته تر ټولو قوي یې. ځکه د لمر مخه نیسې. زه غواړم
چې له تاسره دوستی وکړم خو په دې کې....

د باد یوه برېښنا راوالوته او وریځې یې
خورې ورې کړې. وړه سویه و ویریده او د کمره
بیخ ته یې ځان پټ کړ. بیا یې له ځانه سره وویل چې نه....

تر وریځې باد ډېر قوي دی. او له باد نه
یې وغوښتل چې دوستي ورسره وکړي.

غوښتل يې چې ځان باد ته ورنيږدې کړي
خو ناڅاپه باد تري تم شو.

وړې سوی. ولیدل چې د باد مخه غره ونیوه
او غر سوی. ته له باد نه هم قوي ښکاره شو. غوښتل
يې چې غره ته د دوستۍ لاس وراوږد کړي خو....

ناڅاپه ځمکه وښوريده ، سخته
زلزله شوه او د غره تيږې يې راونړولې.

وړه سوی په نا امیدۍ له غره نه راوګرزیده او
ځمکې ته یې وویل چې ته له ما سره دوستي وکړه ځکه چې
ته تر غره هم قوي یې. ځمکې چې خبرو ته خوله خلاصوله نو په دې کې.....

سیلاب راغی او د ځمکې ځینې غاړې یې
له ځان سره یوړلې. وړه سوی بیا په چورت کې شوه.

دا ځل يې زړه ومنله چې اوبه له خپلې قوي دي، نو له اوبو نه يې د دوستۍ غوښتنه وکړه ، اوبو ځواب نه و ورکړې چې ورو- ورو په وچيدو شوې.

وړه سوی لاړه چې وګوري او به ولې وچې شوې؟
ویې لیدل چې یو سپین ږیری بزګر او به بندوي
او خپلې ځمکې پرې خړوبوي.

وړه سوی سپین ږیري بزګر ته نیږدې شوه او ویې ویل:
اوس ما ته پته ولګیده چې د ځمکې پر مخ ته تر ټولو قوي
یې. زه غواړم چې له تا سره دوستي وکړم خو سپین ږیري
بزګر ورته وویل چې دا سې نه ده. د ځمکې پر مخ هیڅوک
تر ټولو قوي نه دی. هر څوک او هر شی خدای (ج) د دنیا
پر مخ دیوه هدف لپاره پیدا کړی دی او هیڅوک د بل چا
ځای نه شي نیولی.

وړې سوی، چې د سپینې ږیرې خبرې واوریدې،
نو په فکر کې لاړه او د مور خبرې وریادې شوې.

# بحث او فعاليتونه

## پوښتنې:

۱- وړه سوی د څه په لټون ووته؟
۲- وړې سوی ته کوم شیان قوي او مهم ښکاره شول؟
۳- وړې سوی تر ټولو قوي موجود وموند او کنه؟
٤- وړې سوی په پای کې کومه خبره ومنله ؟

## فعاليتونه:

۱- د لمر له روښنايي پرته نورې روښنايی هم پیژنئ، که وي نو توپیر یې د لمر له روښنايی سره څه دی؟
۲- تودوخه له کومو شیانو نه لاس ته راځي؟ نومونه یې واخلئ او توپیر یې د لمر له تودوخې سره څرګند کړئ .
۳- له وریځو نه کوم شیان پیدا کیږي ، نومونه یې واخلئ ؟
٤- اوبو ته بندونه د څه شي لپاره جوړیږي، تاسې په خپله سیمه کې د اوبو څو بندونه پیژنئ؟
٥- په غرونو کې کوم شیان پیدا کیږي، نومونه یې واخلئ. تاسې هم کوم مشهور غرونه پیژنئ؟

# "New Home, New Life"

## "THE SEARCH"

Afghan Publishing House has great pleasure to introduce another illustrated storybook to our dear readers. This storybook entitled "The Search" is the 28th title that Afghan Publishing House has published.

The story is a part of world folklore and has been passed down in different countries from one generation to another. However, every generation has changed it according to its own creativity. For example, in English resources, the main character is the mouse, for others it is a human or rabbit's son. But the enjoyment and moral of the story is the same i.e. to encourage children to become self-reliant.

Afghan Publishing House has chosen the small rabbit as the main character. The rabbit searches for the most powerful being or object among all in the world, because he wants to make friendship with it. Although the rabbit's mother gives him a logical answer still the small rabbit disagrees and thinks the sun must be the most powerful. But then he becomes puzzled and wonders if the answer is a cloud, or the wind, or an earthquake, or even the land. He comes to the conclusion that water must be the most powerful. But an old farmer disagrees and gives him the correct answer, which surprisingly is the same answer that the rabbit's mother had told him in the beginning. What is it? We do hope you enjoy finding out.

Dear readers, our aim is to find folktales and then present them in interesting illustrated storybooks for children. If you know of any folktales which are common in your community, please send them to us so that we can publish them and then pass them on to younger generations too. Thank you.

Katib Pasun
Chief Editor

**Afghan Education Projects, BBC**

Published by: **Afghan Publishing House (APH)**
Editor in Chief: Katib Pasun
Script Editor: Baryalay Bajauri
Artist: Siddiq Zhakfar
Received: Folkloric Resources
Computer: Baz Mohammad Abid
Printed by: Public Art Press, Peshawar
Serial Number: 0028
First Published: 2005/ 10000

**Copyright © by APH**

## Contact address:

**BBC/ AEP**
House. No # 271
First Street Qalla-e- Najarha , KhairKhana
P.O.Box: 1
Kabul, Afghanistan
Telephone: 0093 020 2400 495
E-mail: bbc_aph@yahoo.com

NEW HOME, NEW LIFE

BBC AEP

# THE SEARCH